مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۹/۲۴

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۴۰۰مه برخه

ولي به نهژارمه خلکو
چې پروطن مې دوښمنان لوبې کوينه

دا بدمرغي نهده، نو څه ده
چې ورور د ورور مرګ ته ټوپک اخيستیوينه

چې د پامير سرک مې جوړشي
په تور پنجاب باندې به بلښي سرهاوروونه

پر بند نمبر دې خاورې واوره
د ښبکي کيسې مې زره سورى کوينه

د لنډيو د دې برخې لهپاره لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

راشه وروستی دیدن مې وکړه
وخت مې پوره دی، زه پرځان پوه شوىيمه

زړه کې مې توربښامار ديره دی
د خوشحالۍ وينې ترې څکي، د غم پريږدينه

زما له غمه خبرمهشي
او که خبرشوې، وابهنهخلې قدمونه

دا بدمرغي نهده، نو څه ده
چې ورور د ورور مرګ ته ټوپک اخيستیوينه

د کلی لاره مو يوه ده
د محبت لارې مو بېلې - بېلې دينه

د محتاجۍ ژوندون مې ولید
خيرن پيرن په ميدانو کې تاوېدمه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د اختر نوم اخيستی نه‌شم
رانه چاپير دي يتيمان ببرسرونه

د جدايي عذاب دې سخت دی
بلې سکروټې مې پرزړه نيولې‌دينه

غرونه مې راوران شو، نه چليږي
ستا د سينې لونګ مې ټول خوړلي‌دينه

غربته ورک شې، رنګ دې ورکشه
ګلاب ـ ګلاب ځوانان محتاج ژوند تېروينه

خبر مې کله کله اخله
د غم اوبه مې تر مرۍ راغلي‌دينه

خدای چې څه‌کړي، هغه به کېږي
هسې نيتونه زما و ستا مالومينه

خلکه په ما کې ګناه نه‌شته
ګناه د وخت ده چې يې زه مجبوره کړمه

چې مې په جيب کې دولت ډېر و
خپل خو لا پرېږده، د پردو خپل شوی‌ومه

چې د پامير سرک مې جوړشي
په تور پنجاب باندې به بلې‌شي سره‌اوورونه

جانان چې بيا ببرته راګرځي
د جدايي لمبو بې سوي‌وي ملکونه

جهان به ټول په وينو سورشي
که له زخمي زړګي نه پورته کړم لاسونه

ځمکه هغه، اسمان هغه دی
لارې کوڅې مې د جانان بدلې دينه

ما درنه تمه د ټول ژوند کړه
تا نيمه‌خوا په نيمه‌لار کې پرېښنومه

ما ورته واک د خپل‌ځان ورکه
ظالم اشنا مې د قصاب دوکانه ته وړينه

لالي مې پټې سترګې درومي
لکه چې شنې بنګې يې بيا خوړلې‌دينه

لوری د يار مې مالوم نه‌کړ
پردو کوڅو کې پسې ډېر وګرځيدمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

لیدل کتل چې په کې نه وي
خدای دې په تشه یاری اورولګوینه

ولې به نه‌ژاړمه خلکو
چې پروطن مې دوښمنان لوبې کوینه

وطن له ما نه پاتېشوی
لکه مرغۍ پر ډکو شپې سبا کومه

ته به ویده شې، خوب به وکې
ما خو د تا غمونه خوب ته نه پرېږدینه

ته به حجره په حجره ګرځې
ما ته ډاکتر د خوب ګولی لیکلې دینه

پر بند نمبر دې خاورې واوره
د شبکې کیسې مې زړه سورې کوینه

په کتو مینه نه‌ماتیږي
څو یې له دنګې‌غړې تاو نه‌کړې لاسونه

پښتو به ولې نه ورانیږي
جـګې‌شمـلې پـښتانه ډمې‌ګـډویـنـه

پرچا د سرو سپینو بارا وي
څوک په پردو کوڅو کې غواړې خیراتونه

که بې له تا مې وخت تیرېږي
د مځکې سر دې راته سره‌سکروټه شینه

طبیبه زما علاج ستونزمن دی
چړې - چړې بانه مې ښخ په زړه کې دینه

ښکارې چې اوس مې وبایللې
یوغریبې شوه، بل قسمت خولې لګوینه

شیریني ډېرکلونه تېرشول
له ما نه هېرشول ستا د زنې شنه‌خالونه

یار یې وړوکی مسافرشو
چا به پیغور د غریبی ورکړی‌وینه

اخر به خپله په کې ګیرشې
څوک چې د مکر دام کې نور راګیروینه

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:
http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ